مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ع .رشيد

۲۰۲۰/۰۵/۲۵

# شهيد ډاکترنجيب الله،

## د افغاني روڼ اندي او ملي تفکر ځاروال او پاسوال واکمن

## (د شهيد ډاکترنجيب الله د شهادت د څلورويشتم تلين په درشل کې)



په دغه لنډه ليکنه کې زما موخه اوهدف ترهرڅه دمخه لکه چې سرليک يې دی داده چې دهيواد دغه روڼ اندی واکمن دځپل فکري ، سياسي اوملي تفکرپه رڼا کې، دځپل وخت په سختوشرايطوکې دهيواد ځوان نسل ته، هغه نسل ته چې له شکه پرته اوس دوی ته ډاکترنجيب الله دځپل هيواد واکمن ديوه اساطيري اتل ځای نيسي په لنډه توګه ددغه واکمن د واکمنۍ ديوه عيني شاهد په توګه دروپيژنم.

څلورويشت کاله تيرشول چېشهيد نجيب الله دافغانستان دټولوملي پالوځواکو په وړاندې دسولې اوپخولاينې غږ. د ملي روغې جوړې په اعلان سره پورته کړ، ملي روغه جوړه يې په ملي اواسلامي تفسيرسره دهيواد دڅغورنې اوخوندي ساتنې يوازنۍ معقوله ملي اواسلامی اړينه داعيه وبلله او په بشپړباورسره يې ترهرڅا دمخه د افغانستان پخواني پاچا ته بلنه ورکړه او هغه ته يې وليکل چې د« بابای ملت » په نامه هيواد ته راشه، داټول پوځي، سياسی او اداري سستم درته سپارم څو پردغه ملت باندې خدای ورحميږي اودغه دپرديو په لاس اولمسه افغان وژنه زموږ په دغه ګډ کورکې پای ته ورسيږي ... خو اعلحضرت دنامتوژورناليست اوملی شخصيت اروابناد ولسمل په وينا:«چې لاهم دلويديز په شيطاني هڅو اوهلو ځلونه پوهيده، د ډاکترنجيب الله له دغه وړانديزڅخه يې زما په وړاندې انکاروکړ...» دملت بابا دډاکتروړانديزونه مانه، دامريکی اولويديزوالو په اميد کړې دريشی او اچولي نکتايی له خپلويوشميردوطن



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

له حالاتوناخبره تکنوکراتوسلاکارانوسره ترهغو کيناست چې امريکايي پوځونو وطن پرسرواخيست اودی هم يوازې ددې له پاره چې له يوې خوا خپل شته راټول کړی  اوله بلې خوا هم هغه د ډاکترنجيب الله وړانديزشوی ( بابای ملت ) وياړ له امريکايانو ترلاسه کړي. موږ وليد چې امريکايانو په سختو توطيوسره له واکه لرې  په ارګ کې پرته له دې چې دوطن د برخليک په باره کې دی اويايي کورنۍ څه وکړي دمرګ تر وروستيو پورې په ماتوځانګونواو بايللو روحياتوسره چې غږ يې نه ملت ته ورسيد او نه هم نړۍ ته،په پای کې په مرګ د شورای نظار ځپلي کابل ميلمه شو ... اوارواښاد ولسمل چې وروسته يې ځان ترې راټول کړ، دانيم بيتی له ځان سره د دغه فرصت له لاسه وتلو په اړه له دوستانو سره زمزمه کاوه :
چې په امريکا مينيدلې – څه اوس ګرځه ليونيه ...
شهيد ډاکترنجيب الله داسې يوافغان واکمن و چې امريکايي جګړه مارو شبکولکه چې شورويانو ارواښاد حفيظ امين ته دمرګ لويه توطيه جوړه کړه ده ته هم دنسکوريدو پراخ پلان ترلاس لاندې ونيو، ځکه دی داسې ځيرک افغان ولسمشرو، چې دافغانستان په شاوخوا کې  له ټولو سياسي اواستخباراتي بهيرونواوهغو توطيو څخه چې د ژنيو له توافقاتوسره سمې دده اوافغانستان په وړاندې دساړه جنګ دلويو لوبغاړوله خوا رامنځ ته شوې وي په هراړخيزه توګه پوهيده ( دژنيودتوطيو په اړه د هغه مهال خارجه وزير کتاب کې په تفصيل سره لوستلای شئ ) ښاغلی وکيل په خپل ذغه اثرکې دپاکستان په شيطاني دريځ اوداچې ديورند هلته (دنړيوال سرحد ) په توګه درج شوی و اوبيا دافغانستان دحکومت له خوا په جدي توګه دشديدعکس العمل په ترخ کې رد شويادونه کړې ده. دغه نړيوال کړکيچن بهير په خپل وارداسې يوسياسي چا پيرياڵ په ګوته کوي چې دهغه په ترخ کې يوه څرګند افغاني ملي درايت ته اړتياوه چې دهغه په ترخ کې بايد له افغانستان اوددغه هيواد له ملي اوتاريخي ګټوڅخه يوچا د دوو نړيوالو ځواکونو چې يوه يې له افغانستان څخه د تښتې لاره لټوله او بل يې تيارپرافغانستان باندې داوسني ماتم له پاره تيارى نيوه ننګه کړې وای، چې دا له ډاکترنجيب الله پرته بل څوک ناشونی و، ځکه خوهمدغه اصل ددې لامل شوچې ډاکترنجيب الله يې په داسې يوه کړۍ را ښکيل کړچې يوه ته يې هم په دغه خاص تاريخي پړاو کې دهيلې او اميد مخ نه وراوښت، شوروي ووت، امريکاخپلو ستنګرو ته دخپلو افغاني اوپاکستانو اجيرو په واسطه زور ورکړ، چې څرګنده بيلګه يې دجلال آباد تاريخی اوملی جګړه وه چې د يادو اجيرانو په څرګنده او له شرمه ډکه  ماته باندې پای ته ورسيده اوافغان ملت ته يې هغه سرلوړي وروبښله، هغه چې نن هم پرديو اوپاکستانيانوپه مقابل کې په سرلوړي په وياړلي جلال آباد کې دافغانانودملی مقاومت له وياړونو څخه ياديږي.
ډاکترنجيب الله  اوملي ځواکونو اوملګرو يې په داسې سختوشرايطوکې د افغانستان د رښتيني مدافع په توګه چې په ټوله نړۍ کې نورنو داسې خواک نه و پاتې چې له ده او دده له حکومت سره دمرستې په ډګر کې پاتې شي ودريد، شوروي  واکمن په خپل ټول رذالت سره په افغانستان کې په خپلو جاسوسيو باندې ترلي پاتې شول، دهيواد په شمال کې را پيل شوې توطيې بل لامل و چې داوړدو جاسوسيوپه پايله کې چې دنجيب الله دحکومت جګپوړی کسان اوجنرالان لکه ( نامتو کودتاچي او دکی جی بي د سترګو تورعبدالحميد محتاط، کاوياني، دمشروطيت دنامتوجاسوس زوی جنرال عظمی،ايله جاری دوستم اونورستم پالي ټول  چې په کورنۍ کچه يې دتوطيو لړۍ دهرې ورځې په اوږدو کې دافغانستان دمرکزپه لوررا نږدې کيده ولاړوو، ستمي کړيوپه ښکاره د شوروي استخباراتو په اشاره  له نظاري ماوستي يارانو سره دتفاهم په ترخ کې پرخپلو ټولو ژمنواو تعهدونو باندې  چې دنجيب الله دحکومت، خلکو او ان خپل ګوند ته يې کړې وې سترګې پټې کړې اوعملاً يې شمال دمرکز پرخلاف د اجيرو څيرو په واسطه ودراوه.داهغه لويه توطيه وه چې شوروي د ډاکترنجيب الله دواکمنۍ پرخلاف دمرکزي آسيا له خوا دخپلو اقليتونوپه مرسته را پيل کړه. چې دغميزې اغيزلاهم په افغانستان کې پای ته نه دی رسيدلی، دوطن ګوند يوې عزتمنې غړې (نجيبه آرش  ) د ستمی، ماوستي اوشورای نظاري دګډو هلو ځلو اودشوروي دملاتړ په اړه په خپله يوه وينا کې دلومړي ځل له پاره د ډاکترنجيب الله دحکومت په شپو ورځوکې پرده پورته کړه  : « داهيلوکوپترونه چې هره ورځ په شمال کې وسلې ټاکلوکسانو ته ورسپاري، داهغه نا مقدس اتيلاف دی چې دټاکلو استخباراتی چينلونو له خوا په خپل ټول وحشت سره ستاسې (ستمي کړيو) په خاطر دهيواد په شمال کې کي جی بي را پيل کړی دی داڅرګند تيری له حکومت او خلکو څخه پټيدای نه شي ... » اودنجيب الله د داسې حساسو اوملي پالو پلويانو اوهغو سرښندونکو غړ. دشوروی استعمار اودهغود ګوډاګيانوپه وړاندې د افغانستان اود نجيب الله د واکمنۍ دحقانيت په وړاندې زموږ د تاريخ طلايي څپرکی وبلل شو...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ



دامریکا اوشوروي واکمنان چې دخپلوموخو په خاطریې
په وینولړلي افغانستان ډاکترنجیب الله ته ورپرېښود!




داهم د شهید ډاکترنجیب الله ورور اوکورنی یې په پنجشیرکې

داخودهغه وخت د شوروي جنایات وو راځی دلته داخوندي ایران یوه تاریخي توطیه هم چې د افغانستان دخاورې دتمامیت او ډاکترنجیب الله په وړاندې یې ترلاس لاندې نیولې وه دیوه عیني شاهد په توګه له تاسودرنو یارانو سره شریکه کړم داسې : د ۱۳۶۹ کال وروستۍ ورځې وې، زه د استاد علامه رشاد کورته دهغه د اوبایمې کالیزې دنمانځنې دبندوبست په موخه ورغلی وم چې له ده سره مشوره پرې وکړم، زه سهار وختی ورغلم، نژدې غرمه وه چې ما اجازه وغوښته خو استاد په جدي لهجه را ته وویل چې تلای نه شې،میلمانه راځي له ماسره به مرسته وکړې، زموږ داخبره لا پای ته نه وه رسیدلې چې دعمومي سړک له خوا د میلمستون د دروازې زنګ وشرنګیده، استاد ما ته وویل چې، ته به ورکته شئ ،هغوی به پورته را ولې ... زه ورکښته شوم ، خو دروازه ترمادمخه د استاد کوم لمسي ورپرانستې وه چې لیده مې د ډاکترنجیب الله لومړی مرستیال اروا ښاد هاتف صاحب او د لومړي وزیر خالق یار مرستیال اروابناد عبدالقیوم نورزی دواړه له یوه عادي موټره له کښته شول او مخا مخ د استاد میلمستون ته راوختل، له روغبړ وروسته اروابناد هاتف صاحب له نورزي څخه هیله وکړه، څوهغه لیک چې دایران دولت په دې وروستیوکې د ښه نیت په نامه له افغان حکومت سره د همکارۍ په موخه را استولی و استاد علامه رشاد ته ووایې،

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اروابناد نورزي ليک ولوست چې په کې راغلی وو:« د ایران حکومت له افغان حکومت سره د مرستې او ښې ورورولۍ په موخه هڅه کړې چې پنځه ویشت (۲۵) زره مهاجرې کورنۍ افغانستان ته درستنې کړي ... » دا لومړی لیک و چې اروابناد هاتف صاحب او ډاکترنحیب الله هغه ځواب کړی واود ایران له دولته يې مننه کړې وه ، خوپه تعقیب يې بل لیک د افغانستان دولت ته رااستولی وچې هغه هم اروابناد نورزي ولوست او په کې لیکل شوي وو:« دایران حکومت په دغه برخه کې خپلې ټولې هلې ځلې ترسره کوي ، خو موږ په دغه اړه له افغان دولته هیله من یم چې دغه پنځه ویشت زره کورنۍ به افغان حکومت له ایران سره په پوله ولایتونو لکه هرات، نمیروز، فراه اونورو کې ځای پرځای کوي ... »

علامه رشاد چې کله ددغو لیکونو متن واورید ترخه موسکایی وکړه او له هاتف صاحب څخه يې پوښتنه وکړه چې ته او داکترنجیب الله ورسره موافق یاست ؟هاتف صاحب وویل چې نه، ځکه :« ډاکترنجیب الله اوزه وایوچې که دغه کورنۍ افغانان وي، دوی د افغانستان دیوه کلي ، ولسوالۍ او ولایت اوسیدونکي دي، هغوی که ربنتیا هم غواړي وطن ته راشي، موږ تیاریو چې دوی ته د دوی په سیموکې مرستې تیارې اوهلته يې ځای پرځای کړو، اوکه دغه کورنۍ ایرانیان وي او غواړي زموږ په پوله کې خای پرځای شي په دغه اړه معذرت غواړو، هم هلته دې له تاسو سره آرام وي ... موږ ایرانیانو ته همدغه ځواب ور استولی دی ... » دعلامه رشاد مشوره هم دغه وه لکه چې هاتف صاحب او ډاکترنجیب الله اشاره ورته کړې وه. وګورئ دا هغه بله لویه توطیه وه چې ایران په ډېرمهارت سره دهغې ترپرده لاندې په دربدره افغانستان کې د خپلو راتلونکوشیطاني اهدافو په خاطر هڅه اوهلې ځلې کولې، هغه کارچې په ربنتیاهم د ډاکترنجیب له حکومته وروسته د ایران له خوا د دوی د لاسپوڅو له خوا په هرات او نورو مرکزي ښارونو کې عملاً تطبیق شو چې بیایې دکابل په جګړو کې ونډه په هراړخیزه دایران په ګټه موږ ولیده .

همداسې اوس نو په سیمه کې داسې یو هیواد نه و پاتې چې د ډاکترنجیب الله له حکومت سره د دوستې پرژمنو باندې ولاړ پاتې شي ، هندوستان چې تل يې له کابل سره دتاریخي دوستۍ لاپې وهلې، هغوی هم له ډاکترنجیب الله سره په هغه کچه لکه چې له مجاهدینو په تیره شمالي ټلوالۍ سره خوله په خوله وو،مرسته ونه کړه ، ډاکترنجیب الله دهندوستان دملی امنیت په خوندي ساتنه کې له هند سره لویې او نه هیرودونکي مرستې کړې وې چې جزیات يې زه دلته نه را اخلم، خو کله چې مجاهدینو کابل وران کړ او د اویا زرو په شاوخوا کې کابلیان يې ووژل ، دوی نه یوازې له نجیب الله سره خپله خواخوږي ونه ښوده بلکی برعکس ځان يې دمجاهدینو له بدنامي شمالی ټلوالې سره وتاړه او هغه څه چې دډاکترنحیب الله حکومت له هند سره درلودل اویایی ګډ مرام و، هندي مقاماتو هغه ټول له یاده وایستل ، نړیوالې ټولنې هم پرهند باندې فشار واچاوه چې ډاکترنجیب الله باید له کابله خوندي هندوستان ته خپلې کورنۍ ته ورولیږدوی، خو دوی بیا هم په دغه برخه کې د رباني او نورو نجیب الله دښمنو ډلو خبره چې نه يې غوښتل نجیب الله له کابله ووځی ومنله، اود هغه د ایستلو پروژه يې همداسې پریښوده ترڅو چې دطالبانود څپاو په ترڅ کې دپاکستاني ای اس آی اودهغو داجیرو له خوا ډاکترنجیب الله شهید شو، د ډاکترنجیب الله دشهادت په مسوولینوکې هندوستان اود هند دهغه وخت کانګرسي واکمن مقامات، دکابل قصاب دزمردو قاچاقبر اوبې مروته دوستان اوجنرالان هم له شکه پرته راځي ددغه لنډ بیان په پایله کې، اوس یوه لنډه پوښتنه داسې مطرح کووچې، داسې یوه واکمن اوداسې یوه نومیالي ته چې له لویدیزه ترختیزه يې ټول جابرطاقتونه دښمنان شوي وو څه ویل په کاروو اولویه تکیه به يې بیا هم پرچا وه ؟ زه چې ددغې دورې عیني شاهد یم او دغه کرښې دلته له تاسو ګرانو دوستانو سره شریکوم ، په پوره باور سره ویلای شم چې ډاکترنجیب الله دیوه افغان واکمن په توګه ترهرچا زیات پرخپل ملت اودهغه په ویاړلي تاریخ باندې دزړه له کوي باورمن اوډاډمن و، دابايد دیوه ربنتینی افغان په توګه ومنو چې له ده سره دنړیوال تاریخ په دغه مهمه شیبه کې لویه درغلی شوې ده،دی یوفرد نه و، بلکې دهغه ملت دمشروچې دده په خپله وینا سخته جفا دده په شته والي کې ورسره شوې وه دی دهمدغه ملت په ننګه ودرید، ده دخپلې واکمنۍ پرمهال هغه دننګ اوعارویاړ لکه چې دده سلف د شورویانو په وړاندې خپلې غاړې ته اچولی وله خپلې غاړې په بشپړشهامت سره لرې کړ، ده لکه دخپلواسلافو غوندی شورویانوته دغلامۍ سرټیټولو پرځای دا ذمه ووهله چې: « تاسو ځئ موږ دخپل وطن دفاع کولای شو...» ما مخکې یاده کړه چې نجیب الله به داسې بدو تاریخی شرایطو کې را ښکیل شو چې ټولو هغوځواکونو، اشخاصو او د دده نژدې ملګرو، چې په سر کې يې ستمی ایتلافیان دده دنژدی دوستان اوملګري دسلیمان لایق په ګډون ترې واوښتل، اوکه نه پنځه کاله خپلواکه دفاع چې له وطن او خلکو يې کوله څه ساده خبره نه وه، یوځواک، یوه ډله چې د هیواد ګټو ته وفادارول له ده سره وه، هغوی له ده سره منلې وه چې موږ وینودرکوو ته باید له هیواده دفاع وکړې اونجیب الله دخپلو روڼ اندو ملګرو، خلکو اوپوځیانودغو سربښندونو ته دوفادارۍ سرټیت کړی و، په دغه اړه د شمال دنامتوقوماندان عطامحمد نور دغه اعتراف دیوه حقیقت په توګه دیادونې وړدی لکه چې وایي : « ډاکترنجیب الله وقتی روسها رفت مردانه وارجنگید، اگرما ازداخل رخنه نمی کردیم تا ده سال دیگر هم قدرت خود را ادامه میتوانیست ... » (مصاحبه عطامحمد نور در یوتیوب ) . شهید نجیب الله په همدغو سختوشرایطوکې د یوې پیاوړې اداري رامنځ ته کولو اراده وکړه، او په دغه ملي پرتم کې يې دواک تروروستۍ شیبې پورې خپلوخلکو اوخپلو ملګرو ته دروغ ونه ویل ، هغه ترهرڅه دمخه په خپلو تیرو باندې دزړه له کومي انتقاد وکړ، دځان اوملګروهغه درواغ اوغیرعملی لاپې شاپې چې دملت له پاره د زغم وړ نه وې له منځه یووړې، هغه نه غوښتل چې دخپل ملت، خپلې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

ملي ژمني په وړاندي دوه رنګی تګلاره ولري، نجیب الله هغه څه چي دغه ملت په شلمه پیړۍ کي اړتیا ورته درلوده چي هغه سوله وه له خلکو پټه نه کړه او هغه یې دیوې ملي اړتیا په توګه اړینه وبلله، هغه دخپل مکارتاریخی دښمن پاکستان په وړاندي چي دافغانستان دبربادۍ ذمه یې امریکا ته وهلي وه سخت بې رحمه و، هغه دلومړي ځل له پاره د اختناق د دوري د پای ته رسیدو پرلامل د مطبوعاتود آزادۍ له پاره لومړنی ګامونه اوچت کړل، ملي ورځپاڼي، دیوشمیرملی اومترقي خیرو لکه شازما ن وریځ، سخي غیرت، اوهمداسي یوشمیردولتي آزادي خپروني لکه سباوون ، اخبارهفته او قلم خپروني اوجریدې وې چي آزادۍ خپروني یې کولي اوخلکو ته یې پردولت اوحکومت باندي دانتقادی جرآت ورکاوه. په هیواد کي دخبره کسانو، لیکوالو اوشاعرانو خبرو خپل ځای درلود، په ادبي او فرهنګی برخو کي رونړ اندو ته د ځانګړو اوخپلواکو ټولنو او انجمنونو د فعالیتونو لاری اواری شوې دخوشحال ، سید جمال الدین ، مولانا، هرات ، سنایی ، ناصرخسرو ټولني او انجمنونه دډاکترنجیب الله په دوره کي را پورته اوپه فعالیتونو یي دافغانستان په مرکزکایل اونورو ښارونو کي لاس پورې کړ.




دسباوو مجلې یوه ګڼه

دهغه په دوره کي دښځوله پاره د قلابی آزادۍ سوال نه و، ښځواونجونوهغه آزادۍ چي په افغانستان کي یې دیوې پیړۍ په اوږدو کي درلودې اوس هم درلودې ، د نجیب الله له پاره د بشری ترقی لامل زده کړه وه ، ده زده کړې او ښوونکي ته په خپل وخت کي زیاته پاملرنه وکړه، هغه ښوونځي ونه تړل ، هغه یومهال اعلان وکړ چي د وطن



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

دښمنانانو تر دوه زره زيات ښوونکي اومعلمان د زده کړې په ګناه شهيدان کړي دي، خوبيايي هم هيواد ته ، خلکو ته اوځوانانو ته شعارداو چې زده کړه دهيواد له بدمرغيو دنجات يوازنۍ لاره ده چې په هراړخيزه توګه يې دنوي عصر له غوښتنوسره سم د ښوونې او روزنې له پاره علمي هلې ځلې پيل کړې اود ښوونې او روزنې وزارت يې دهيواد نامتو ترقي غوښتونکې ميرمنې (معصومې عصمتې وردګ ) ته وسپاره...



دهيواد اوپوهې دلارې ملي اومترقي مبارزه ، عالمه ، شاعره اوليکوال ميرمن عصمتې وردګ

لنډه داچې ، ددغوټولو کړنوچې د ډاکترنجيب الله په دور کې ترسره شوې ، په هغوکې د خلکواوهيواد په وړاندې له صداقت او رښتينولی پرته نورڅه نه ليدل کيدل، دولتی اداره د ايمانداری او صداقت سمبول وه، دخلکو دهوسايۍ په خاطر دټولنيزو خدمتونولړی په هراړخيزه توګه فعاله وه، رشوت اوخيانت اوله ملي شتمنيوڅخه ناوړه ګټه اخيستنه په انفرادي او ډله ييزه توګه دوجدان او ايمان خرڅول ښکاريدل، د اداری هرغړی د کاراوخدمت په لومړي اود امتياز په وخت په وروستی کتارکې وو...
دخلکو اوهيوادپه وړاندې قرباني اوځان تيريدنه هغه ځانګړنه وه چې دډاکترنجيب الله عصرته له تيرو په ميراث ورپاتې ، صداقت اوايمانداري ، قرباني اوځان تيريدنه وه چې دهغه عصرد ټولنيزهڅون په استازيتوب يې له ډاکترنجيب الله څخه ملي اساطيري شخصيت جوړکړ، ده اويارانويې په خپل وخت کې پرخلکو او ملت ، پرتاريخي افغانستان باندوياړکاوه همداده چې که موږ وغواړو اوکه نه، زموږدملت له ضميره همدا يوغږ په اوچتيا سره پورته کيږي چې : « که زما په دعا کيږي، الله ج دې د جنتونوسرداركړه...»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ




هو، دا دملت دعاده، دا دهغه انسان دوسته نسل دعاده چي دده په قرباني باندې به په تلپاتي توګه د سرلوړي اومسلمان افغان په توګه وياړي.

**چي پیدا شوی تا ژړل خلکو خندا کړه**
**داسي مړشه چي ته خاندی خلک ژاړي**

**درناوی**
**پروفیسور رشید**
**د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر ۲۵**
**ادمنتون - کانادا**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځیر و لولئ